لعنت کوونکي کسان به د قیامت په ورځ نه شاهدان وي او نه شفاعت کوونکي

له ابو الدرداء -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اوریدلي دي چې ویل یې: «لعنت کوونکي کسان به د قیامت په ورځ نه شاهدان وي او نه شفاعت کوونکي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک پر هغه چا زیات لعنت وایي چې هغه یې مستحق نه وي، نو دی د دوو سزاګانو مستحق دی: لومړۍ دا چې: د قیامت په ورځ به پدې شاهدي نه ورکوي چې پېغمبرانو خپلو امتونو ته پېغام رسولی دی، او په دنیا کې به یې شاهدي نه قبلېږي، ځکه چې فاسق دی، او د الله په لار کې قربانېدل به یې نه نصیب کېږي. دویمه دا چې: د قیامت په ورځ به دی هغه مهال شفاعت نشي کولی؛ کله چې مؤمنان د خپلو هغو ورونو لپاره شفاعت کوي چې اور ته د داخلېدو پرېکړه یې شوې وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5495